# د حمزه بابا په جمالياتي افکارو د مشرقي عالمانو اثرات

# INFLUENCE OF EASTERN THINKERS ON HAMZA BABA'S AESTHETIC THOUGHTS

Muhammad Haroon[1]

## ABSTRACT

*This research paper is about Hamza Baba's notions of aesthetics which bear resemblance to Eastern sages. Most of the philosophy that originated in Asia particularly India and China, is spiritual in essence. Among them: aesthetic pathos and bliss, aesthetic wonder, aesthetic spiritual experience, aesthetic moment and shantarasa (aesthetic flavor of inner tranquility) are noteworthy ideas. This research paper tries to analyze Hamza Baba's concept of worldly beauty from the angle of Eastern approach towards aesthetics.*

Keywords: Aesthetic Pathos and Bliss, Aesthetic Wonder, Shantarasa

---

[1] Associate Professor Govt Degree College Katlang Mardan
Higher Education Department KP

د حمزه بابا په رنګين تخيل او ګلورين شعور کښې د ښکلا تصورات او افکار غزونې کوي، د هغۀ جذبه د جمال په تصور رنګينه ده د هغۀ ذوقِ جمال د پښتو د ډُرخانى په ډول سنګار او سرخنه کولو کښې غټ کردار ادا کوي.

ﻪ باغ به د رنګ رنګ ګلو، جوړکړم دبياض لمن
ما لره حمزه چې خدائے طبع رنګينه راکړه (۱)

او ولې به د هغۀ فن رنګين نۀ وي او د بقا ضمانت به نۀ ورکوي چې هغه ئې په اخلاص د زړۀ په وينو اوبۀ خور کړے دے.

ﻪ هر يوګل به بقارنګے د دې باغ وي
چې په وينو د حمزه دزړۀ زرغون دے (۲)

د حمزه بابا د شاعرى د مطالعې نه پس مونږ په دې نتيجه رسو چې هغه د جمالياتو د افکارو او تصوراتو دپاره نۀ يوازې د مغربي جماليانو نه خوشه چينې کړې ده بلکه د مشرقي جماليانو او ښکلا د تصوراتو نه ئې هم خپل تخيل سمسور ، فکر ښېرازه ، جذبه رنګينه، او زړۀ روښانه ساتلے دے.
مونږ به په دې مقاله کښې د هغۀ د مشرقي جماليانو د افکارو جائزه اخلو چې هغه تر کومه حده ددې حق ادا کړے دے.
وړومبے به د حُسن د ماهيت په حقله خبرې اترې وکړو.

حُسن څۀ څيز دے؟

چې کوم منظر، کوم څيز ، معروض، وجود ، ترکيب او کوم کېفيت پنځه واړه انساني حواسو، عقل ، زړۀ او روح ته د خوشحالی سره سکون او اطمينان هم ورکوي، نو په دغه ټولو کښې حُسن دے او دغه ټول ښائسته بللے شي.

رڼا، اواز، نغمه، تصوير او خوشبو ټول د ښکلا مختلف شکلونه دي او دغه افاقي هم دي.

د علم الانسان (بشريات) په نقطۀ نظر سره حسن صرف د جسماني کشش نه عبارت دے چرته چې هم دا کشش موجود وي نو دغه به حُسن وي.

په تاريخ کښې په وړومبي ځل د جرمني دانشور بام ګارټن په ۱۷۳۵ء کښې د حسن د فلسفي دپاره ”Aesthetics“لفظ استعمال کړو.

جماليات هغه علم ته وئيلےشي په کوم کښې چې د ښکلا په مظاهرو نظرياتو، مشاهداتو او دفنون لطيفه په مسئلو او افکارو په تفصيلي توګه بحث کولے شي او هغه ټول حقيقتونه پکښې رابرڅېره کولے شي کوم چې د حُسن ، جمال ، جلال او قبح سره تړون لري.

حسن ته په هره زمانه کښې په جدا جدا نقطۀ نظر کتلے شوي دي. کله خو به په زور ، قوت کښې حسن ليدلے شو، کله به د فطرت نقالی او ترجمانی ته ښکلا وئيلے شوه، کله به ډول سنګار ته، کله سادګی ته، کله به په شان و شوکت او د دبدبه کښې حُسن لټولے شو، کله به نزاکت او لطافت ته د ښکلانوم ورکړے شو او کله به د توازن، تناسب او اعتدال په معني سره حُسن وبللے شو. کله به په وحدت کښې لټولے شو او کله په کثرت کښې، مونږ ته اندازه

وشوه چې په مختلفو دورونو او مختلفو قامونو کښې د حُسن تعريف او معيار مختلف حيثيت لرلے دے.

دا يو بديهي حقيقت دے چې حُسن په معروض کښې هم شته او په موضوع کښې هم. د خلقو د اختلاف باوجود د حسن د معيار او حقيقت نه څوک سترګې نۀ شي پټولے.

انسان د خپل پېداوښت سره د حُسن او جمال نه ضرور متاثره شوے راروان دے. چرته نه چرته به انسان د خپل جمالياتي ذوق د تسکين دپاره د ښکلا لټون کولو، کله په تجسيمي ادراک کښې ، کله په تنزيهي ادراک کښې، کله په فطرت کښې،څنګه چې د ښکلا ذوق په ورو ورو څلامونده هم دغه رنګ د انسان جمالياتي ادراکاتو هم څلامونده.

پنځلس زره کاله وړاندې د هسپانيه او جنوبي فرانس په غريئزو سلسلو کښې داسې غارونه څرګند شوي دي چې په هغې کښې د څناورو او مارغانو ښائسته رنګين تصويرونه جوړ شوي دي. دغه شان دوه نيم زره کاله (ق م) مخکښې مصريانو چې کوم اهرامِ مصر جوړ کړي دي هغه نن هم د تعمير د اعلٰی حُسن شاهکار ګڼلے شي. دا ددې خبرې ګواهي ورکوي چې پخواني انسانانو اوچت جمالياتي ذوق لرلو.

دجمالياتو تعلق د انسان او د معاشرې سره دے. ددۀ د پنځه واړو حواسو ، شعور او لاشعور سره دے. انسان ټول عمر د ښکلا په لټون کښې دے . که حقيقي حُسن دے نو دے ئې د جلوو او ديدار په تلاش کښې دے، که اخلاقي او تهذيبي حسن دے نو دے غواړي چې معاشره په خپلو ښو اخلاقو ښائسته کړي او خلق مهذبه شي. او که د خپل ځان او ذات حُسن دے نو دے لېواله دے چې خپل صوري او معنوي ښکلا هم برقراره اوساتي. او که د فطرت د ښکلا مظاهر او مناظر دي نو دے

پرې د خپل ذوقِ جمال تسکین کوي او که د مجازي حُسن ننداري دي نو ددۀ ژوند ئې رنګین کړے دے او که د فنون لطیفه مصوری ، شاعری ، نقاشی، او موسیقی شکلا ګانې دي نو ددۀ د ذوقِ سلیم د ابیاری ذریعې دي او که د فن د شکلا شاهکار د تاج محل حسن دے یا د اټلي د مونالیزا ښائست دے ، یا د ژوند د جذبو او ولولو حسن دے نو انسان ددې ټولو نه خوشحالي، مسرت او حظ و انبساط حاصلوي او تل پرې فخر او ویاړ کوي۔

اوس به د حمزه بابا په شاعری کښې د مشرق د جمالیاتو افکار وړاندې کړو، په دې کښې مشهور تصورات دادي۔

په کثرت کښې دوحدت د حُسن نظریه، جمالیاتي سوز و سرور جمالیاتي حېرت، جمالیاتي مشاهدات، شانت رس، هاسیه رس او مجازي حسن۔ په مجازي حُسن کښې تناسب اعتدال، سادګي، عفت، پاک دامني، غنم رنګے حُسن او ملاحت د شکلاعناصر او صفات دي ۔

<u>په کثرت کښې د وحدت د حسن نظریه:</u>

د وجودي صوفیاوؤ په خیال کائنات یا کثرت دیووجود، حسنِ مطلق (وحدت) اعتباري مظاهر دي۔ چې په هر یو مظهر او معروض کښې د ازلي حسن خُلق، پړق او جلوه موجود ده۔

حقیقي حسن د لاهوت نه په ناسوت او مادي جسمونو کښې خپلې جلوې څرګندوي او د حدیث قدسي "والخلق کلهم من نوري"له مخه هم د کائنات ټول څیزونه د نور مطلق تجلیات دي۔ او مرزا غالب هم فرمائیلي دي۔

ے د هر جز جلوۀ یکتائے معشوق نہیں
ہم کہاں ہوتے اگر حُسن نہ ہوتا خودبین

په معروضاتو، صفاتو او شیزونو کښې چې چرته هم شکلا ده دا د شیزونو ذاتي صفتونه نۀ دي بلکه د یو مطلق حُسن ښائست دے۔ سالکان او عارفان په هر مظهر کښې دغه حُسن ویني۔

دا مشاهده فقط هغه خوک کولے شي چې د هغۀ دا پوخ باور او یقین وي چې دا کائنات د حقیقي حُسن "جلوه گاه" دے۔

او د زړۀ په سترګو، بصیرت سره دغه باطني جمالیاتي مشاهده کوي۔ په دې باب کښې د جمالیاتو مشهور عالم ایکو ینګاس وئیلي دي۔

"یہ کائنات حسین تو ہے لیکن اس کے حسن کا مشاہدہ فقط وہی شخص کرسکتا ہے جو اسے حسنِ حقیقی کی جلوہ گاہ سمجھ کر دیکھتا ہے"۔ (۳)

حمزه بابا د وجودي صوفیاؤو په شان ددغه حسن په جلوو پسې د هرمظهر او معروض نه قربانیږي۔ او په مختلف پیرایه کښې په شهودي سیر کښې د وحدت د حُسن او دیدار قائله دے۔

ے زه چې د هر شیز نه قربانیږم پکښې یار وینم
یار ته زما ګوره هسې ماته هرځائي وائي (۴)
ے حسن هغه یو دے چې په هر محفل کښې ښکاري
ځان چې غورځوي په هره شمع پروانه (۵)
ے حاصل له ډیرو شکلو مې وحدت کړو د ښائست

کثرت د بتخاني نه مسلمان راغلے يم (۶)

ـه زما نظر د ښکلو وړے نۀ دے

زۀ په هر يو ښکلي ستا نظير غواړم (۷)

د حمزه بابا په خيال هر عارف ته د حُسنِ مطلق جدا جدا عرفان نصيب شوے دے.

ـه اشنا ته يو ئي خو دي تا ننداره

ستا هر مئين جدا جدا وکړه (۸)

موسیٰ کليم الله ته په کوهِ طور، ابراهيم خليل الله ته په اور ، حضرت يونس عليه السلام ته په مهي کښي، منصور ته په دار د تجلي او ديدار نصيب شو او سردارِ دوجهان ته په لامکان.

## جمالياتي سوز و سرور (Aesthetic Pathos and Bliss)

جمالياتي سوزوسرور د جمالياتو په اصطلاح کښي د عشق هغه سرور نه دکِ درد ته وائي چي د انسان د باطن او زړۀ تزکيه او پاکوالے پرې کيږي. په دي سره زړۀ ته طمانيت ، راحت، کيف، حظ او انبساط حاصليږي. په مشرقي جمالياتو کښي د جمالياتي مسرت سره د سوزوسرور اصطلاح هم شته.

په دي باب کښي پروفيسر ثريا حسين داسي وينا کړې ده.

"په شعرو ادب کښي کرون رس د خپل ارزښت په لحاظ دارسطو د اصول Catharsis (کيتهارسس) سره ډير نزدے دے." (۹)

ے د هجران په درد و غم کښې ډېر لذت وي
معجزه خرقِ عادت زما خوښ نۀ دے (۱۰)

ے سر مې ددي داسې خوشحالی نه ځار
ستا په محبت کښې چې غمژن یمه (۱۱)

ے ناویونکي خوشحالي محسوس کومه
نن چې تا هسې ملال کړو زما زړۀ (۱۲)

ے داښکه زما زړۀ دعشق په بټ کښې قرار وموند
چې ګل غوندې مُسکے او غوړېدلےغوندې ښکاري (۱۳)

<u>جمالیاتي حېرت (Aesthetic Wonder)</u>

د حسن د جمالیاتي مشاهدې په دوران کښې چې په انساني حواسو او عقل کومه حېرانتیا راځي نو دې ته د جمالیاتو په اصطلاح کښې جمالیاتي حېرت وئیلے شي. په حقیقت کښې دا حېرانتیاپه کتونکي کښې د نورې جمالیاتي مشاهدې د پاره تنده او اشتیاق سېوا کوي او نوې نوې ننداري ته ئې هڅوي.

په معروضي کائنات کښې ، په مجازي څیزونو کښې هم جمالیاتي حېرت راتلے شي. لکه د یو لوئے غر یا سمندر، یا یوغټ ځنګل په لیدو سره هم په انسان حېرت راځي یا چې څوک اهرام مصر، تاج محل او نور څۀ عجیب و غریب څیزونه اووینې نو په هغه وخت دے حېران شي.

او حېرانتیا د باطني جمالیاتي مشاهدې سره هم په حواسو، عقل او زړۀ راځي. خو دمجازي او حقیقي جمالیاتي حېرت تر مینځه غټ فرق دادے چې په مجازي مشاهده کښې دا حېرانتیا سطحي ، وقتي او عارضي وي. ځکه چې د مجازي

حُسن ، دفطرت د ښکلا جمالیاتي مشاهده او دهغې ادراک جزوي او سطحي وي.

او کله کله دا حیرت د حق د تجلیاتو، او انواراتو د مشاهدې سره هم راځي چې حقیقي او باطني وي نو ددې اثر هم روحاني او پائېدار وي. د حقیقي جمال د مشاهدې د غه حیرت د سالک د پاره د مطلق حُسن د عرفان سبب ګرځي. حمزه بابا د جمالیاتي حیرت سره د یو کامل صوفي په طور مخ شوے دے ځکه خو دغه کیفیات بیانوي.

ـه داسې دورنګی د خپل اشنا متحیر کړمه
غم کښې ژړا ماله خوشحالی کښې خندا نهٔ راځي (۱۴)

ـه هر ګل ئې ائینه ده د قدرت د رنګینو
پخپله خپل وجود خو یوحیرت دے د سپرلي (۱۵)

ـه عارف د هغه مخ یم ، په یو څیز نهٔ حیرانیږم
دا اوس چې کله راشي ، حیراني نهٔ دي نور څهٔ دي (۱۶)

ـه عارف شو چې ئې ماته ائینه کړه د نسبت
حیران شو چې دي کور کښې ئې حیران ونهٔ موندو (۱۷)

<u>جمالیاتي مشاهده او تجربه : (Aesthetic Experience)</u>

د ښکلا مشاهده په پنځه واړو حواسو کېدے شي.

بصري مشاهده، سمعي مشاهده، مشامي مشاهده، ذوقي مشاهده او لمسي مشاهده.

د ظاهري حواسو په ذریعه چې کوم مشاهدات کیږي نو دا ظاهري حسي مشاهدات بللے شي.

د حمزه صاحب په جمالیاتي مشاهداتو کښې ډیر زیات تنوع او تلون دے او د جمالیاتي تصور دائره ئې فراخه ده . وړومبے به د هغهٔ د مجازي ښکلا د مشاهداتو جائزه واخلو.

بصري مشاهده: (په حسِ باصره سره د ښکلا مشاهده کول)

ـه په ليدو ئې مړاوي زړونه تازه کيږي
عطا کړے ورته رب سدا بهار مخ (۱۸)

ـه دنيا د تخيل مې ګلورينه غوندې ښکاري
خنداچې ستا په سرو شونډو ريښمينه غوندې ښکاري (۱۹)

ـه زور د ګلا نو شو اشنا راغے
سترګې زما په مړيدو ښکاري (۲۰)

<u>سمعي مشاهده:</u> (په سامعه قوت او حس سره د ښائست ادراک کول)

ـه فطرت کړي ګل ته غږ چې دازغو سره راځه
بُلبل ته اشارت چې د نغمو سره راځه (۲۱)

<u>لمسي مشاهده:</u> (د لامسې د حس په ذريعه د حسن نه خوندونه اخستل)

ـه زه ترې نه سوال په وېره وېره د بوسې چې وکړم
وائي چې سم دي دواړه لبې مې، شيريني نۀ دي (۲۲)

ـه شوګيرې د خپل زنګون دپاسه خوند کا
خو د خوب د پاره ستا زنګون پکار دے (۲۳)

<u>مشامي مشاهده:</u> په شامه حِس سره د ذوقِ شميم خاوندان داسې مشاهده کوي.

ـه هوش مې د کاکل د نکهتونو هوا وړے دے
خدائيګو چې مشام ته مې نافه د ختن تشه ده (۲۴)

ـه ځوکه د سموم غوندې غلیم وي خوندیم شي
ښکلیه ستا په بام چې راتېر شوے وي شمیم شي. (۲۵)

ـه بوئي ئې د یار دتوروزلفو عنبرو راځي
د زړۀ بلبل ځکه ګلشن ته په نعرو راځي (۲۶)

<u>جمالیاتي باطني مشاهده:</u>

د ظاهري حواسو د مشاهدې نه علاوه بل قسم جمالیاتي مشاهده باطني او روحاني وي. کوم چې په باطني حواسو، زړۀ او وجدان کیږي. د مغرب فلسفیان صرف د ظاهري مشاهدې قائل دي او د مشرق پوهان د باطني مشاهدې منونکي دي. ددې زیات تعلق د صوفیانه مسلک او روحاني عرفاني وارداتو سره وي.

حمزه صاحب د چشتیه سلسلې د یو کامل صوفي په حېث د سماع د سمعي مشاهدې په ذریعه دروحاني کېف او تسکین ذکر داسي کوي.

ـه تسکین د زړۀ پکاردے که په ورد که وظیفه وي
لاچاته له قسمته شي حاصل په چنګ و دف کښې (۲۷)

دحسنِ مطلق د عرفان په لټون کښې سالک دوه قسمه بصري مشاهده کوي. یوې ته د افاق (Universe، کائناتِ کبیر) مشاهده وائي او بل ته د انفس (Self، من، Microcosmic idea، کائناتِ صغیر) مشاهده وئیلے شي.

قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائي.

"سنریهم ایتنا في الافاق وفي انفسم" (۴۱۔۵۳)

انفسي مشاهده موضوعي ده او افاقي مشاهده معروضي ده.

حمزه صاحب دواړه مشاهدې مني، دواړه د حُسن د عرفان په لړ کښې معتبرې ذريعې دي. خو کومه چې معروضي دَه، نو هغه په کثرت او صفاتو کښې د حُسن پلوشې او جلوې لټوي او کومه چې موضوعي دَه نو هغه د زړهٔ په مکان، کعبه او عرش د حُسن د جلوو مشاهده کوي. ځکه خو حمزه بابا د بصيرت په حُسن د موضوعي باطني مشاهدې ترغيب داسې ورکوي.

ے ځان په منزل د عاشقۍ چې سترے نهٔ کړې چرې
زړهٔ د خدائے کور دے عشق په خپله دې مکان ته راځي
(۲۸)

په روحاني مسلک کښې د حقيقي حُسن دوه قسمه مشاهدات وي. يو ته جمالي مشاهده وائي کوم چې د حسن د جمال د تجلياتو او انواراتو وي او سالک ورته توان طاقت لرلے شي. او بل قسم جلالي مشاهده بللے شي چې دې قسم ته سالک د کتلو توان نهٔ لري، او ددې ضبط او برداشت کول هم د هر چا د وس کار نهٔ دے.

حمزه بابا د باطني جلالي مشاهدې حال او واردات داسې بيانوي.

ے ته چې راښکاره شې د وجود بنه مې وسوزي
نورڅهٔ پاتې نهٔ شي دوه لېمه مې د تن پاتې شي (۲۹)
نمر چې پلوشې وکړي او وبورنيږي شپې ترېنه
ستا د مخ برېښنا څه وه، نظر ئې رانه يوړو (۳۰)
ستا په ديدن پسې فنا يمه زهٔ
يو په بدن کښې مې لېمهٔ پاتې دي. (۳۱)
نهٔ ۋ طاقت مې، خوديدن مې د نمر مخې غوښتو
چې راښکاره شو لکه سترګه د سحر پرېوتم (۳۲)

جمالیاتي آن او لمحه (Aesthetic Moment)

جمالیاتي آن او لمحه هغه لحظې ته وائي په کوم کښې چې د یو صوفي زړۀ ته د اطمینان ژوندے قوت نصیب شي او نفساني خواهشات مغلوب شي، دا لحظه ډېره شکلي وي۔

ناصر صاحب په دې حقله داسې فرمائي۔

"دحسن په ذکر سره د حسن و محبت د خاوندانو په محفل کښې د جمالیاتي لمحاتو د پېدا کېدو قوي امکان وي۔" (۳۳)

په مانځه کښې د قُرب او حضورۍ په موقع د انواراتو باران کیږي، په لېلۃ القدر کښې یو ساعت دے چې په هغې کښې هم هر قسمه دعا قبلیږي، په عاجزۍ، ژړا، توبه او استغفار کښې هم د جمالیاتي لمحاتو د پېدا کېدو صلاحیت موجود وي۔

څکه خو حمزه بابا د جمالیاتي آن او لمحې ذکر داسې کوي۔

ستا په مینه کښې چې تېرې شو لمحې دي
هم هغه مې د ژوند ځلنده نقطې دي (۳۴)
قربان په شب خېزۍ د اوښکو ستورې کړې ژړا
یو کېف مې په ژړا کښې د سحرمونډلے دے(۳۵)

د هندوستان د جمالیاتو معروف دانشور برتهٔ مني (۴۰۰ق م) په "ناتیه شاستر" نومې کتاب کښې د "رس" اتهٔ قسمونه بیان کړي دي چې څۀ مشهور پکښې دادي۔ لکه شانت رس، هاسیه رس، شرینګار رس، او کرون رس وغیره۔

"رس" ته مونږ د مسرت احساس یا د انبساط فلسفه وئیلے شو دا د دحسن د معروضي اړخ په ځائې د حُسن نه د خوند اخستو په موضوعي اړخ (موضوعیت) زور ورکوي۔

حمزه بابا په مشرقي جمالیاتو کښې د شانت رس او هاسیه رس پېروي په ځلانده ډول کړې ده.

شانت رس:۔
د مشرقي جمالیاتو د "رس" د نظریې سره تعلق لري او ددې نه مراد د روحانیت طمانیت او سکون دے. په دې باب کښې ثریا حسین داسې وېنا کړې ده.
" د مشرقي جمالیاتو په نقطهٔ نظر سره د موکش (روحانیت) د جذبې نه چې کوم رس پېدا کیږي دغې ته "شانت رس" نوم ورکول ممکن دي" (۳۶)
د شانت رس سره روحاني او قلبي اطمینان مېلاوېږي. ددروېشانو صحبت، د پیر او مرشد تعلیم، د تصوف د کتابونو مطالعه، د شانت رس د پېدا کولو محرکات او اسباب دي.
حمزه بابا د خپل مرشد صحبت، عقیدت او محبت د شانت رس ذریعه ګڼي.

ے چې بېنوا ته مې زړهٔ ورکړو بېنوا شومه زه
رڼا رڼا شومه حمزه چې شومه یار د رڼا (۳۷)

رڼاد نُور، پاکیزګی، نفاست، سپېځلتیا، او د زړهٔ او روح د پاکوالي دپاره علامت دے. کله چې د یوکامل ولي صحبت نصیب شي نو د سالِک د زړهٔ نه ټول کدورتونه، خیرن والے، الائشونه لرې شي. ځکه خو حمزه صاحب دغه حقیقت داسې بیانوي.

ے یمه که کرمک او اورکے کړمه ستا مینې
زهٔ په هره ساه خپلو تیرو لره رڼا شومه (۳۸)

رشتینے جمالیاتي بصیرت انسان د الٰهي نوُر، د کائنات جمال او د وجود جمال ته بېدارووي او هغه د تیارو نه رڼا او نُور طرف ته را اوباسي۔

ے د تبسم نه دې قربان شم اشنا
د زړۀ داغونو مې رڼا وکړه (۳۹)

ے په بسیط حُسن ورګډ شو لافاني شو
چې د شکلي په طرف په سفر غږ ؤ (۴۰)

حال ، وجد، اوشکې بهیول او خلوت پسندي هم د شانت رس خارجي علامات دي۔ یو څو جمالیاتي اسرار (Aesthetic Secrets) دادي۔

حال:۔

کوم کیفیت چې د الله تعالٰی د طرف نه د یو سالک په زړۀ غیر ارادي طور طاري شي او دے پکښې روحاني کیف و سرور محسوس کړي نو دې ته "جمالیاتي حال" وئیلے شي۔ حمزه بابا د "حال" په مقام داسې فرمائي۔

ے حمزه زۀ اوس په زمان او مکان پوه شوم
عاشقی چې محض "حال" کړو زما زړۀ (۴۱)

ے ورک چې شو نور هر څۀ، پاتې زۀ شومه
اوس راته زمان یوه لمحه ښکاري (۴۲)

جمالیاتي وجد (Aesthetic Ecstasy)

په سلوک او تصوف کښې چې په سالک د ملکوت نه کوم وجد طاري کیږي او دے ترې د حُسنِ مطلق د مینې د تجلي خوند اخلي نو دې ته جمالیاتي وجد وئیلے شي۔

حمزه بابا چې کله د جمالیاتي وجد ادراک کوي نو داسې فرمائي۔

ــه لـذت لـه ګـتـو اخلي هيڅ لـه ځانـه خبـر نـۀ دے
اشنـا چې ستا لـه کـويـه لـيـوني بـيـابـان جوړکه (۴۳)
د ازل نـه ده مستي زمـا پـه بـرخه
نقصان څۀ دے که شم اوس د چنګ په تـار مست (۴۴)

اوښکي بـهيول او ژړا هم د شانـت رس علامـات دي۔

دې سره زړۀ نـرمـيـږي، رقتِ قـلـبي شروع کـيـږي، او عرفـان حاصلـيـږي۔ څکه خو حمزه بـابـا دغه تـجربې بـيـان کـړي دي۔
ــه د عشق محل کښې د تـراوو څۀ کـار
پـريـږده چې اوښکي بـهيـږي ښې دي (۴۵)
ــه اے ضبطه پـه لـېمو خومې لـږ بـويـه عنـايت
دې تـرمـو تـرمـو اوښکو نـه دانـي مۀ جوړوه (۴۶)
جمالـيـاتـي واردات:۔ د جمالـيـاتـي مشاهدې د اثـراتـو او د جمال د سرور نـه ډک د زړۀ دوه رنګه کېفـيـتونـه دي۔ يـو "جمالـيـاتـي حال" بـللے شي۔ پـه کـوم کښې چې وجد ، کېف، خوشحالـي او مستي شامل ده او دوئـم تـه "جمالـيـاتـي واردات" وائـي۔ پـه کـوم کښې چې الـقـاء او الهام شامل دے۔

الهام:۔
د انسان نفسِ ملهمه تـه د الله تـعالـی د لـورې الهام کـيـږي۔ او دا دسعادت نخښه ده۔ حمزه بـابـا ددې تـجربـې نـه هم تـېـر شوے دے۔ لـکه چې وائـي۔
ــه د الـهام پـه کـېفـيت هله خبر شوم
چې پـه زړۀ زمـا نـازل شو زمـا زړۀ (۴۷)

هاسیه رس:

په مشرقي جمالیاتو کښې د هاسیه رس نه مراد مزاح، خندا، مُسکا او ټوقې ټقالې دي. د ثریا حسین د وینا مطابق:

"خندل، ټوقې ټقالې، طنزومزاح، ملنډې کول ټول د هاسیه رس خارجي او ظاهري علامات دي." (۴۸)

مُسکا خندا هم په خپله حسن دے. رحمت الله درد صاحب وئیلي وو.

ے خندا خو حسن په یو چند سېوا کړي
ناصح چې ولې د خندا دشمن دے

حمزه بابا د "هاسیه رس" په تصور کښې د مشرقي پوهانو سره همنوا دے. او دا د جمالیاتي مشاهدې سره تړون لري.

ے په غصه کښې شي لاښکلې، په مُسکا کښې خو لاپریږده
دا همه واړه جمال دے، ستا جلال منلے نۀ شم (۴۹)

<u>مجازي حسن:</u>

په مجازي حسن کښې تناسب ، اعتدال او په جسماني کړۀ وړۀ کښې هم آهنګي او موزونیت هم شامل دے.

د مجازي حُسن په صفاتو کښې د حمزه بابا په نظر کښې تناسب، اعتدال، شډلوالے ، سادګي، جلالي رنګ ، عفت، پاکدامني، ستر ، حیا، غنم رنګے حسن او ملاحت دے.

د حمزه د ښکلا پېکر او ماډل څه په دې ډول دے.

ے مرېې غټې توري سترګې، لوئې بانۀ درازي زلفې
بس داسې یو پېکر چې وي زیبا ګڼلے کیږي (۵۰)

تناسب اعتدال:

د قرآن په اصطلاح کښې ورته تعدیل وائي. دا هم د حُسن یو قدر دے او د یونان د فلسفي ارسطو نقطه نظر څۀ دا رنګ دے.

"ارسطو اعتدال کو بھی حُسن کے لئے ضروری قرار دیتا ہے اور دلیل یہ دیتا ہے کہ کُل کے اجمالی مشاہدے کے لئے ضروری ہے کہ معروض حد سے زیادہ بڑا نہ ہو اور مشاہدے کے لئے ضروری ہے کہ معروض حد سے چھوٹا نہ ہو۔" (۵۱)

او مولانا ابو الکلام ازاد په دې باب کښې داسې وائي.

"یہی اعتدال و تناسب دنیا کے تعمیری اور ایجابی حقائق کی اصل ہے۔ وجود، زندگی ، تناسب، حُسن ، خوشبو، نغمہ، بناؤ او خوبی کے بہت سے نام ہیں مگر حقیقت ایک ہی ہے اور وہ اعتدال ہے۔" (۵۲)

اعتدال او تناسب هله کېدے شي چې د اجزاؤ په مېنځ کښې یو خاص نسبت وي نۀ یو جُز ډېر وړوکے او مختصر وي او نۀ بل جُز ډېر اوږد او طویل.

د اعتدال نه مراد د څیز د معنوي عناصرو (توکو) کمیت ، کیفیت او د ماحول مطابق موزون ترکیب ورکول دي.

نو ځکه په موسیقي کښې "لے"، شعر کښې "وزن"، تصویر کښې "روپ" “Tone” او مزاج کښې "صحت" تر هغه وخته نۀ شي پېدا کېدے تر څو چې په دې کښې اعتدال نۀ وي. خوشبو، شعریت، غنائیت، او لذت وغیره د اعتدال مختلف نومونه دي. حمزه بابا په مختلف انداز کښې د اعتدال دغه اهمیت څرګندوي چې دا خو د ښکلا دپاره لازمي جُز دے.

ہ ژوند د هر يو څيز په اعتدال ښکلی دے
ډېره چې شوه مېنه ، مينه ورکه شوه (۵۳)

ہ ورکه شي سپوږمی په مسلسل کتو
ډېره چې ښکلا شي، ښکلا نۀ ښکاري (۵۴)

ہ د نمر مخو ديدن کله کله ښه وي
هغه حسن حسن مه ګڼه چې عام شو (۵۵)

ہ د ديدن خوا ږۀ ئې کله کله ښۀ وي
داثمر چې تل تر تله شي زقوم شي (۵۶)

شډلوالے ، سادګي:

ځنې پوهان لطافت او نزاکت حسن ګڼي. خو حمزه شينواري د پښتنې پېغلې د حسن د پاره چې کوم معيار او ماډل خوښ کړے دے په هغې کښې د لطافت په ځائے شډلوالے او د سادګۍ ده. د حمزه د حسن دا نظريه د پښتنې جونې د ښکلاتصور دے. دې لړ کښې شډل حُسن ، شډله ځواني، برنډې سترګې او د زمرې غونډې کټل، حسن ددې تصور په رغونۀ کښې د استعارو او علامتونو کار ورکوي. ددې سره "ساده کاتهٔ" او غلچکے نظر هم ددې حسن صفات بيانوي.

ہ مۀ تېتوه سترګې خپل شډل دې ساته حُسن
ښکليه درته خوې د پښتانۀ کول پکار دي (۵۷)

ہ خومره زيرکې په سادګۍ کښې هم د حسن ده
ته چې په محفل کښې په پردو سترګو راوګورې (۵۸)

ہ هغه ساده سترګې چې ماشوم غونډې کتل کوي
چاورته ښودلي ده حمزه د غلچکو ژبه (۵۹)

جلالي رنګ:

حمزه بابا د پښتني پېغلي د حسن د پاره د جلالي ځيزونو تشبيهات راوړي او په دغه علامتونو ددې د حسن د جلال، غېرت ، ننګ، وقار او عظمت په ګوته کوي.

ے هغه هوسی سترګې چې له ځايه پښتني دي

ته چې حمزه ځېر ورته کاته کوې زمری شي (۶۰)

ے چاته شکته مځ شه لمبه ژنې برندې سترګې ستا

دا د پښتني غېرت نه ډکې داد قام ډيوې (۶۱)

عفت پاکدامنې، ستر، حيا ، پرده :

دا هم د شکلا د يو توکي حيثيت لري.

ناصر صاحب په دې باب کښې ليکي.

"د نسوائي حسن د تولو نه زيات اهم جمالياتي قدر "حيا" ده. دا د دې د حسن روح هم دے چې ددې نه بغېر د ژوند حسن او ددې کشش، جاذبيت، د پاکوالي، معصوميت او لطافت نه محرومه کيږي." (۶۲)

د پښتو په کلاسيکي شاعری کښې اشرف هجري هم دغه جمالياتي قدر "حيا" د نسواني حُسن روح ګڼلے دے.

ے ښائسته سترګې هغه چې باحيا وي

بې حيا سترګې به څه کړې که زيبا وي

حمزه بابا په جمالياتو کښې هم روايت او جدت غاړه غاړې ساتلي دي.

د حمزه بابا ددې نقطهٔ نظر سره سمون لرونکي شعرونه وځېړوئي.

ے پټ دې محبت لره کامل چې شي

پېغله جينې خلق په کالهٔ ساتي (۶۳)

ـه بې د عفت نه وايه چرته وي زيور د جمال
څۀ پرې جوهر د زړۀ راشکون چې له شبابه وځي (۶۴)
ـه چې په حيا کښې هم کاتۀ کړي د زمروغوندې
ماله دې سترګو مسلمانو پښتنو زده کړه (۶۵)

غنم رنګے حُسن:

په انګريزانو کښې شنې سترګې، نرې لوړه پوزه د حسن ځرګند صفتونه بللے شي. جاپانيان وړې سترګې ، چيته پوزه، حبشيان زنګيان توررنګ، ګلګوتې وېښته او غټې پېړې شونډې شائسته ګڼې او دايشيائي هېوادونو خلق نرۍ شونډې تورې سترګې او غنم رنګ ښکلا خوښوي .

يعنې د ښکلا ايشيائي تصور "غنم رنګے حُسن"دے. د پښتو په کلاسيکي شاعرۍ کښې صدر خان ختک، کامګارختک، او محمدي صاحبزاده دغه تصور د جمالياتو برخه ګرځولې ده. او په جديد دور کښې حمزه بابا د دغه جمالياتي تصور روايت برقرار ساتلے دے. يو څو نمونې ئې وځيروئ.

ـه د مغرب سرې سپينې خو زړونه چوي
زه غنم رنګه د خپل قام اخلم (۶۶)
ـه عمرې حسن دې روزې شه غنم رنګه
خېر که زه دې دديدن عمرې نهر شوم (۶۷)
ـه هر څو که محبت مې زړۀ چاودون ګڼلے دے
حاصل له غنم رنګو مې ژوندون ګڼلے دے (۶۸)
ـه حمزه ښکلا د غنم رنګو شه ده
خو محبت ئې زړۀ چاودون غوندې شو (۶۹)

ملاحت او صباحت:

دا دواړه د ښکلا جمالیاتي اصطلاحات دي. د ملاحت حُسن ته ملیح حُسن وئیلے شي په دې کښې زړۀ راښکون ، تازګي اونمکیني ډېره وي، په کتلو (جمالیاتي مشاهده) ئي مړېدل او سېرابي نۀ کیږي. بیا بیا ورته د نندارې د پاره زړۀ، سترګې او نظر اوړي.

بل قسم صبیح حُسن وي چې صباحت او سپینوالے خو په کښې ډېر وي خو دنمکینی ، ملاحت اوزړۀ راښکون تاثیر نۀ لري. په یو ځل کتلو ترې بیانظرونه په بل لوري وګرځي اوسترګې پرې مړې شي.

ملاحت د مشرقي جمالیاتو د ادبیاتود حُسن توکے دے. په قدیم سنسکرت ادبیات کښې د سوندریه (حسن) یو عنصر "ملاحت" هم ؤ.

د پښتو په کلاسیکي شاعرئ کښې علي محمد مخلص، عبد القادرخان خټک او کاظم خان شېدا په خپل کلام کښې دغه جمالیاتي قدر "ملاحت" ستائلے دے. په نوي دور کښې حمزه بابا د جمالیاتو دغه روایت برقرار ساتلے دے. د ملاحت په باب کښې د هغه د ښکلي فکر دا شعرونه ولولئ.

ﮯ حسن شي خندا، د سپین سحر د صباسترګه کښې
چرته وي ښکلا د صباحت چې ملاحت نۀ وي (۷۰)

ﮯ شان د عظمت دې د ضمیر د قیادت سره دے
په صباحت کښې زړۀ راښکون د ملاحت سره دے(۷۱)

ﮯ ملګریه! صباحت او ملاحت خوئې قیامت دے
منمه خو په پت او پښتو کښې د کتو ده(۷۲)

حوالې

1. حمزه شینواري دیوان یونیورسټي بک ایجنسي
پېښور اپریل ۲۰۱۳
2. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۷۵
3. ناصر جمالیات جلد اول صفحه نمبر ۲۸۹
4. حمزه شینواري دیوان صفحه نمبر ۴۷۴

5. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۳۵
6. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۸۴
7. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۴۵
8. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۷۸
9. پروفیسر ثریا حسین جمالیات شرق و غرب صفحه نمبر ۲۵
ایجوکیشن بک ہاؤس مسلم یونیورسٹی مارکیٹ علی گڑھ 1983ء
10. حمزه شینواری دیوان صفحه نمبر ۵۸۱
11. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۳۲
12. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۸۹
13. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۱۱
14. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۶۳
15. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۵۵
16. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۸۰
17. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۹۴
18. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۰۸

19. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۱۱
20. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۰۵
21. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۴۶
22. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۸۵
23. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۶۳
24. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۵۷
25. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۳۹
26. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۶۲
27. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۰۶
28. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۶۳
29. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۵۳
30. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۲۰
31. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۸۷
32. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۳۸
33. ناصر نصیر احمد جمالیات قرآن کی روشنی میں صفحه نمبر ۱۸۲ نیشنل بک فاؤنڈیشن اسلام آباد ۱۹۸۴ء
34. حمزه شینواري دیوان صفحه نمبر ۳۹۴
35. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۸۹
36. ثریا حسین جمالیات شرق و غرب صفحه نمبر ۲۷
37. حمزه شینواري دیوان صفحه نمبر ۹۷
38. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۶۳
39. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۷۸

40. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۹۸
41. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۸۹
42. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۰۷
43. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۰۶
44. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۰۲
45. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۹۴
46. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۵۰
47. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۸۸
48. ثریاحسین جمالیات شرق و غرب صفحه نمبر ۲۴
49. حمزه شینواري دیوان صفحه نمبر ۱۵۶
50. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۲۷
51. قاضي جمال حسین ، جمالیات اور اردو شاعري صفحه نمبر ۳۹
عکس پبلیکیشنز بک سٹریٹ داتا دربار مارکیٹ لاہور 2019ء
52. مولانا ابو الکلام آزاد، ترجمان القرآن جلد اول صفحه نمبر 98
اسلامی اکیڈیمی الفضل مارکیٹ اردو بازار لاہور
53. حمزه شینواری دیوان صفحه نمبر ۳۵۳
54. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۰۹
55. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۰۷
56. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۳۹
57. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۷۵
58. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۹۱
59. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۲۸
60. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۴۵۲

61. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۴۷
62. ناصر نصیر احمد ، فلسفه حُسن صفحه نمبر ۳۷۰
مجلس ترقي ادب كلب روڈ لاهور 1981ء
63. حمزه شينواری ديوان صفحہ نمبر ٣٦١
64. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۷۱
65. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۸۵
66. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۵۸
67. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۱۶۳
68. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۹۲
69. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۱۷
70. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۳۷۰
71. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۵۴۸
72. هم دغه اثر، صفحه نمبر ۲۵۴